الله تعالى نيکۍ او بدۍ ليکلي دي، بيا يې دا خبره په ډاګه کړه چې

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی له رسول الله ﷺ څخه چې هغه د خپل رب تبارک وتعالى څخه روايت کوي، فرمايي: «الله تعالى نيکۍ او بدۍ ليکلي دي، بيا يې دا خبره په ډاګه کړه چې که څوک په زړه کې د يوې نيکۍ قصد وکړي، خو ترسره يې نکړي، الله جل جلاله به يې هغه نيکي له ځان سره کامله ثبت کړي، او که اراده يې وکړه او هغه نيکي يې عملي کړه؛ الله جل جلاله به يې ورته لس برابره تر اووه سوه برابره کړي، او که چېرته يې د ګناه اراده وکړه خو عمل يې پرې ونه کړ؛ نو الله تعالى به يې له ځان سره د بشپړې نيکۍ په خبر ثبت کړي، او که چېرته يې اراده وکړه او عملي يې کړه، نو الله تعالى به يې ورته يوه ګناه وليکي».

[صحيح دی] [البخاري او مسلم په خپلو صحيحينو کې په همدې تورو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې الله تعالى نيکۍ او بدۍ اندازه کړي دي، بيا يې دوه ملايکو ته ورښودلي چې څنګه يې وليکي: نو څوک چې د يو نيک کار اراده، نيت او عزم وکړي، د هغه لپاره يوه نيکي ليکل کيږي اګر که عملي کړي يې هم نه وي، خو که چېرته يې عملي کړه نو هغه ورته لس چنده تر اووه سوه چنده او څو چنده زياتيږي، او زياتوالى په زړه کې د اخلاص او نورو ته ګټې رسوونې او داسې نورو کړنو په اندازه وي. او څوک چې د کوم بد کار اراده، قصد او عزم وکړي، بيا يې د الله تعالى لپاره پرېږدي، د هغه لپاره نيکي ليکل کيږي، او که چېرته يې لدې امله پرېښوده چې ورڅخه په بل کار بوخت شو او د هغه کار اسباب يې هم تر سره نه کړل، نو هيڅ شى ورته نه ليکل کيږي، او که چېرته يې د ناتوانۍ له امله پرېښود نو د نيت په اساس ورته - ثواب او يا ګناه ليکل کيږي - او که چېرته يې ګناه عملي کړه نو يوازې يوه بدي ورته ليکل کيږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66533